ليکوال: دکتور حميد راز نېټه ۳۱-۱۰-۲۰۱۰

# دبهرنيو چارو په وزارت کې بايد

## اساسي او بنسټيز بد لو نو نه ا و تصفيه راشي!

د افغانستا ن دبهر نيو چارو دوزير ښاغلی زلمي رسول دپام وړ!

ګر انو لو ستو نکو! ما دبهر نيو چارو دوزارت په بر خه کې دمخه هم ورته مقا لې په لر او بر، ټول افغان او بېنوا ويب پا ڼو کې ليکلي دي، خو داچې دقدرت دخا وندانو ستر ګې ړندې دي او واقعيتو نو ته تن نه ږدي نو دا ددوی خطا ده۰

ګرانو هېودوالو! دبهر نيو چارو وزارت دافغانستان په کليدي وزارتونو کې يو مهم وزارت دی چې نه يوازې دبهر نيو هېوادونو سره داړيکو دپاللو په بر خه کې مهم او رغنده رول لو بوي، بلکې دبهرنی نړۍ سره په اقتصادي، فر هنګي او سيا سي ډګرونو کې هم ددغه وزارت او په تېره بيا دسفارتونو او کونسلګريو رول ډېر مهم دی۰ په واقعيت کې همدا وزارت د بهر نيو هېوادونو سره د افغانستان د اړيکو تا مينوونکی دی، خو له بده مر غه ددغه وزارت په لوړو پو ستو نوکې هم دهېواد په دننه او هم په افغاني سفا رتو نو، کو نسلګريو او نما ينده ګيو کې داسې کسان په کارونو ګومارل شوي دي چې دخپلو جيبونو په ډکولو، عيا شيو او فحاشيو او اختلا سونو بوخت دي ۰ سر بېره پردې داسې ناولي عناصر پکې شته چې سمتي، ژبني او قومي تبعيضونه او تعصبو نه لري۰

دغه وزارت ته هغه وخت مر داريو او چټليو لاره ومو نده چې په راس کې يې دنظار دشورا استازی عبدالله عبد الله وټا کل شو۰ دده دټا کنې سره سم پنجشېريانو پر دغه وزارت قبضه وکړه او دا يو نه انکار کېدونکی واقعيت دی چې عبدالله عبد الله چې نن د کرزي پر حکومت انتقادونه کوي په دغه وزارت کې په سلو کې۸۰ پنجشيريان ور چوخ کړل۰ عبدالله ته دا مطرح نه وه چې زه دغه کس د سفېر يا کو نسل يا لومړی، دويم او دريم سکرتر او يا هم د شارژدافېر په تو ګه ټا کم څومره سويه لري؟ څو مره زده کړې يې کړي دي؟ څو مره دديپلو ماسۍ په اساساتو پو هيږي؟ او څومره سياسي پو هه او بصېرت لري؟ ان د عبد الله په وخت کې دنوي ډيلي دسفارت يو چايدار باشي چې پنجشيری و په بمبئي کې دافغاني کونسل په پوست ټاکل شوی و ۰ هغه ته پنجشيريان مطرح ول نه پو هه۰ داسې کسان هم په دغو ديپلو ماتيکو پوستونو کې مقررشول چې دشپږم ټولګي نه هم نه وو فارغ شوي۰ کله چې دغو کسانو ته دعبد الله له خوا دغه دندې ورکړل شوې نو هر څه يې چې غو ښتل هغسې يې کول، ځکه چې عبد الله يې سپورټر وو۰ دغو کسانو دهيڅا پرواهم نه درلوده۰ دوی رشو تونه خوړل، په عياشيو او فحاشيو بو خت ول او هغوی ته دافغانانو او افغا نستان حيثيت مهم نه و۰

همدا اوس هم دغه وزارت د پنجشير يانو او ستمي عنا صرونه ډک دی۰ داسې افغاني سفارتونه هم شته چې سفېر يې پنجشيری دی، شارژدافېر يې پنجشيری دی او لومړی، دويم او دريم سکر ټر يې پنجشېريان دي او په افغاني سفارتونو کې ددوی فرمان چلېږي او دوی نه دبهر نيو چارو دوزېر کومه پروا لري او نه يې هم څو ک ابسته کولای شي ۰همدا اوس په افغاني سفارتونو کې داسې سفېران، کو نسلان، شارژدافېران، لومړي، دوهم او دربم سکرټران شته چې دا اته کاله کيږي چې په پرله پسې تو ګه دغه دندې پر مخ بيا يې، خو چا ونه پو ښتل چې کاکا دا چوکۍ دې اجاره کړې ده که څنګه؟ حال داچې بايد يو ديپلومات په دريو کلونو کې تغېر او تبد يل شي، دا خويې دپلار دايمي چو کۍ نه ده۰ همدا اوس دغه سفارتونه يوازې او يوازې دلوړ پورو چارواکو، جنګسالارانو او قوماندانو او خائيننو د زامنو، وروڼو او خپلو انو نه ډک دي چې په هغو کې درباني، عبد الله، قا نوني، فهيم، دوستم، کرزي، محقق، خليلي او نورو خپلوان ، دوستان او دډلې ټپلې خلک دي۰ کله چې سړی خپل سفارت او يا کونسلګری ته ځي ددې پر ځای چې خو شاله شي نو دپردېتوب احساس پکې کوي۰

دغه کسان چې په دغو ديپلوماتيکو پو ستونو کار کوي لاندينۍ نېمګړ تياوې لري:

۱ - ديپلو ماتيکې زده کړې نه لري او نه هم د ديپلوماسۍ په الفبا پوهيږي۰

۲ - په انګليسي او کو مه بله خارجي ژبو باندې نه پو هيږي ان ديوه تليفون جواب هم په صحيح توګه نه شي ور کولای ۰

۳ - د دولتونو تر مينځ د دوستانه اړيکو په ټينګو لو کې کوم بر يا ليتوب نلري۰

٤ - رشوتونه خوري، اختلا سونه کوي ۰

٥ - ډېر يې په غير اخلا قي کارونو بوخت دي۰



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

٦- دافغا ني محصلينو او زده کونکو ډېر ابلمونو او ستو نزو نه نه دي خبر٠ چې ښې بيلګې يې په بمبئې کې افغان کو نسلګري او قا هره کې افغاني سفارت دی، خدای پو هيږي چې په نورو هېوادونو کې به دافغانانو او دافغاني محصلينو دستو نزو څه حال وي ؟
٧ - دخپلو هېوادوالو په وړاندې دژبنيو، سمتي او قو مي تعصبو نونه کار اخلي او دمراجعينو او خلکو سره نا وړه چلند کوي٠
٨ - دمحصلينو دولتي معا شو نه ددغو سفارتونو له خوا نوش جان کيږي٠
اونور په سلګو نو ډېر واقعيتونه ٠٠٠

دبهرنيو چارو وزارت او شخصا دبا ندنيو چارو زېر صاحب که په رښتيا هم غواړي چې خپل هېواد ته خدمت وکړي او دبهر نيو چارو وزارت ددغو ناولو عنا صرو دولکې نه وژغوري نو بايد لا ندينې کو ټلي ګامونه واخلي:
١- يوه با صلا حيته کميټه جوړه کړي او په بهر کې دټولو افغاني سفا رتونو تش په نامه ديپلوماتانو اسناد بر رسي کړي چې څو مره ديپلو ماتيکي زده کړې لري٠
٢- هغه تش په نامه ديپلوماتان چې دجنګسالارانو او ددولت دلوړ پوړو چارواکو زامن، ورو ڼه او خپلوان دي او په کلونو کلونو لکه ډېر ازيتونو په څېر ډالري امتيازونه او معاشو نه اخلي او پر دغو دندو ګومارل شوي دي او هيڅ کو مه ديپلوماتېکه او سياسي پوهه نلري سمد لاسه معزول او پر ځای يې نيک، په کار پوه او دښه چلند انسانان چې د افغانستان دهر ولايت او هرې سيمې پورې اړه ولري وګو مارل شي ٠
٣- په هروشپږو مياشتوکې دې يويو هيئات ددغو سفارتونو ته ورشي او ټولې چارې دې له نږدې بر رسي کړي، ځکه ددوی نه هيڅکله هم پو ښتنه نه ده شوې نو ځکه دچا پروا نلري ٠
٤- بايد دغو ديپلوماتانو ته جدي توصيه وشي چې دخپلو هېوادوالو سره نيک او ښه چلند وکړي او ددوی دکارونو په تر سره کولو کې ورسره لا زمې مر ستې وکړي٠
٥- د افغا ني سفارتونو او کو نسلګريو عوايد دې په جدي تو ګه بر رسي شي ٠
٦- افغاني سفارتو نه او کو نسلګرئ بايد دافغاني محصلينو او زده کوونکو په ستو نزوکې جدي واوسي او بايد تل دمحصلينو ستونزې دنږدې وڅاري او دمحصلينو او زده کوونکو ستونزې او مشکلات حل کړي نه داچې دوی ته نورې ابلمونه جوړ کړي ٠
٧- ټول هغه ديپلوماتان چې ژبني، قو مي او يا هم سيمه ايز او تنظيمي تعصبات لري سمدلاسه معزول او قانوني چلند ورسره وشي٠
٨- د بهر نيو چارو په وزارت کې بايد ديپلو ماتيک پو ستونه دعلمي معيارونو له مخې ورکړل شي نه ديوه ګروپ اوسېمې پربنسټ٠
٩- هر څوک چې په دغه وزارت کې مقرريږي بايد ديپلوماتيکي زده کړي ولري، په بهرنيو ژبو وپو هيږي نه داچې هر خر او غوايي او ناپو هه بې له دې چې څه زده کړې ولري په دې وزارت کې ورچوخ شي٠
ښا غلی رسول صاحب! تا سو ددې وزارت په راس کې ياست، تا سو که رښتيا هم غواړئ چې تصفيه راولئ با يد له چا نه ونه ډار شئ دا ستاسو ايماني، وجداني او هيوادنی مسئوليت او دنده ده چې نور دغه وزارت داو سني ناوړه حالت نه وژغورئ او په دغه وزارت کې ديوې سېمې دمافيا ناوړو منګولو ته دپای ټکی کښيږدئ که داسې مو ونکړل نو څوک به مو ونه بخښي اوهم به دخدای او هم دخپلو افغانانو پر وړاندې مسئول وئ٠
موږ افغانان په تمه يو اودنږدې نه حالات څېړو ٠

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ